

# د لیبرالیزم ضد مبارزه


مائوتسه دون

ژباړه: سرمد

خپرندویه: سیند

# د لیبرالیزم ضد مبارزه

موږ د فعالې ایډیولوژیکې مبارزې پلویان یو، ځکه دغه مبارزه هغه وسله ده چې د انقلابي ګوند او سازمانونو په منځ کې زموږ د جګړې په ګټه وحدت تضمینوي. دغه وسله باید هر کمونیست او هر انقلابي په لاس کې ولري.

خو لیبرالیزم ایډیولوژیکې مبارزه نه مني او د غیر اصولي پخلاینې سپارښتنه کوي، له دې کبله د منحط او مبتذل عمل د تر سره کولو لامل ګرځي چې د ګوند د واحدونو او انقلابي سازمانونو ځینې کسان سیاسي فساد ته کاږي.

لیبرالیزم تل په بیلابیلو ډولونو ځرګندیږي:

د سولې او ملګرتیا ساتنې لپاره د هغه چا په هکله چې په ځرګند ډول یې خطا کړې ده له حقایقو څخه سترګې پټول، او یوازې د دې لپاره چې هغه یو پخوانی آشنا، وطندار، همصنفي، یو نږدې ملګری، خپلوان، د اوږدې مودې همکار او یا یو پخوانی تر لاس لاندې کس دی، ورسره له اصولي بحث څخه سرغړونه. یا د مسایلو د نهایي حل پر ځای د نیکو اړیکو د ساتنې لپاره، په سطحي ډول له مسایلو سره چلند کول. پایله به یې دا وي چې هم ډلې ته تاوان ورسیږي او هم په خپله هماغه کس ته ـ دا د لیبرالیزم د ځرګندیدو لومړنی ډول دی.

د افرادو په غیاب کې په غیرمسئولانه ډول انتقاد کول، تشکیلاتو ته په فعال ډول د وړاندیز نه وړاندې کول. د اشخاصو په هکله د هغوی په حضور کې د خپل نظر له وړاندې کولو څخه ډډه کول خو د هغوی پشې شا خبرې کول. په جلسو کې له خبرو څخه ډډه کول خو له جلسې وروسته بې ځایه چالانیدل. د ټولنیز ژوندانه د اصولو په وړاندې بې پروا او خپل ځان بې پروایي او بې بندوباري سره عادت کول ـ دا د لیبرالیزم د ځرګندیدو دویم ډول دی.

هغه څه چې په شخص پورې تړاو ونلري، خدای ته یې سپارل. د یوه کار د ناسمتیا په اړه په بشپړ ډول د خبریدو په صورت کې د هغه په هکله د امکان تر کچې له نظر څخه ډډه کول. په رندانه ډول د ځان ساتنه او د دې لپاره چې اشتباه ترې ونشي، یوازې د خپل ځان ساتل ـ دا د لیبرالیزم د ځرګندیدو دریم ډول دی.

له دستورونو څخه اطاعت نه کول خو خپلو نظرونو ته ارجحیت ورکول. له تشکیلاتو څخه د ځانګړې پاملرنې تمه درلودل خو تشکیلاتي انضباط نه منل ـ دا د لیبرالیزم د ځرګندیدو څلورم ډول دی.

د دې پر ځای چې د وحدت یا پرمختګ یا په سم ډول د کار د تر سره کولو لپاره مرسته وشي او یا بحث تر سره شي او د ناسمو نظرونو ضد مبارزه وشي، په شخصي حملو لاس پورې کول، دعوا او مرافعه په لاره اچول، د شخصي کرکې یا غچ اخیستنې ځرګندول ـ دا د لیبرالیزم د ځرګندیدو پنځم ډول دی.

د ناسمو نظرونو له اوریدو وروسته د هغه نه ردول، او آن د انقلابي ضد نظرونو اوریدل پرته له دې چې د دغو ځرګندونو ګزارش ورکړل شي، پر ځای یې په سړې سینې ورسره چلند کول، چې ګواکې اصلاً هیڅ نه دي شوي ـ دا د لیبرالیزم د ځرګندیدو شپږم ډول دی.

د ولسونو په منځ کې اوسیدل خو نه تبلیغ کول او نه هڅول، یا په جلسو کې خبرې نه کول، یا تحقیق نه کول او د ولسونو د وضعیت په هکله پوښتنه نه کول، خو د دې ټولو پر ځای د ولسونو په وړاندې بې تفاوته پاتې کیدل او د هغوی د ژوندانه په وړاندې لیوالتیا نه ښودل. د دې خبرې له یاده ویستل چې د یوه کمونیست چلند له معمولي کسانو سره یو شان نه دی ـ دا د لیبرالیزم د ځرګندیدو اووم ډول دی.

د هغه چا اعمال لیدل چې د ولسونو ګټې تر پښو لاندې کوي، خو نه غصه کیدل، هغه ته تذکر نه ورکول، د هغه مخنیوی نه کول او ورته منطق او دلیل نه ویل، بلکې د هغه مخه پرانیستې پرېښودل ـ دا د لیبرالیزم د ځرګندیدو اتم ډول دی.

په جدیت سره کار نه کول، ځانګړې برنامه یا مشخص اړخ نه درلودل، بلکې کارونه خدای ته سپارل ـ «تر هغو چې یو شخص راهب دی، کار یې د جَرَس ږغول وي.» ـ دا د لیبرالیزم د ځرګندیدو نهم ډول دی.

خپل ځان داسې شخص ګڼل چې د انقلاب په لاره کې یې ګران بیه کارونه تر سره کړي، د کوچنیو کارونو تر سره کول شرم ګڼل په داسې حال کې چې د مهمو دندو د تر سره کولو لیاقت نه درلودل، په کار کې بې پروا او په زده کړې کې سست ـ دا د لیبرالیزم د ځرګندیدو لسم ډول دی.

له خپلو خطاګانو څخه خبر درلودل او له دې سره سره د هغوی د اصلاح لپاره هڅه نه کول، د خپل ځان په اړه له لیبرالي طریقې څخه کار اخیستل ـ دا د لیبرالیزم د ځرګندیدو یوولسم ډول دی.

البته نور ډولونه هم په دې باندې زیاتیدای شي، خو دغه یوولس ډولونه د لیبرالیزم د ځرګندیدو عمده ډولونه دي. دغه ټول د لیبرالیزم د ځرګندیدو ډولونه دي.

په یوې انقلابي ډلې کې لیبرالیزم یوه ډیره زیانمنه پدیده ده. لیبرالیزم د واینې په څیر یو موټی والی او وحدت په تدریجي ډول له منځه وړي، ترونونه شلوي او د بې تفاوتی او د نظر اختلاف لامل ګرځي. لیبرالیزم د انقلابي سازمانونو د کلکو تشکیلاتو او پولادي انضباط له منځه وړونکی دی، د سیاسي لارښوونو د بشپړ تر سره کولو مخه نیسي او بالاخره حزبي سازمانونه له هغو ولسونو څخه چې د ګوند تر مشرۍ لاندې ځای لري، جلا او لیرې کوي. دا یو فوق العاده بد ګرایش دی.

لیبرالیزم د کوچنۍ بورژوازي له ځان غوښتنې څخه سرچینه اخلي چې شخصي ګټې د انقلاب پر ګټو پورته ګڼي. په دې ډول چې دا په خپله د ایډیولوژیک، سیاسي او تشکیلاتي لیبرالیزم د سر پورته کولو لامل ګرځي.

لیبرالان د مارکسیزم اصولو ته د وچو تجریدي دُګمو کسانو په سترګه ګوري. هغوی مارکسیزم مني او خوښوي یې، خو چمتو نه دي چې هغه عملي کړي او یا یې په بشپړ ډول عملي کړي. هغوی چمتو نه دي چې مارکسیزم د خپل لیبرالیزم ځایناستی کړي. دغه کسان هم د خپل ځانګړي مارکسیزم خاوندان دي او هم خپل لیبرالیزم ساتي. هغوی د مارکسیزم خبرې کوي خو د لیبرالیزم په طریقې عمل کوي. د نورو په هکله مارکسیزم کاروي، خو د ځان په هکله لیبرالیزم. هغوی په خپلې چانټې کې دواړه جنسونه ساتي او د هر یوه لپاره د استفادې ډولونه هم پیدا کوي. دا د ځینو کسانو د تفکر طریقه ده.

لیبرالیزم د اپورتونیزم د څرګندیدو له ډولونو څخه یو دی، او له بنسټه له مارکسیزم سره په تضاد کې دی. لیبرالیزم یوه منفي پدیده ده چې په واقعیت کې له دښمن سره مرسته کوي، له همدې کبله دښمن زمونږ په منځ کې د لیبرالیزم له شتون څخه خوشحالیږي. دا د لیبرالیزم ماهیت دی چې د انقلاب په کرښو کې باید ورته په هیڅ ډول ځای نه وي.

مونږ باید د مارکسیزم د مثبتې روحیې په رڼا کې پر لیبرالیزم چې منفي دی، برلاسي شو. یو کمونیست باید پراخ نظره، کلک او فعال وي، د انقلاب ګټې باید د خپل ځان په څیر ارزښت لرونکې وګڼي او شخصي ګټې باید د انقلاب د ګټو تابع کړي، او باید تل او په هر ځای کې پر سمو اصولو ټینګار وکړي او د هر ډول ناسم فکر او عمل په وړاندې په نه ستړي کیدونکي ډول مبارزه وکړي څو د ګوند ډله ییز ژوند لاپیاوړی او له ولسونو سره د ګوند اړیکې نورې هم غښتلې کړي، هغه باید د یوه عادي غیرحزبي کس د ژوندانه پرتله ګوند او ولسونو ته زیاته پاملرنه وکړي، باید نورو ته هم له خپل ځان څخه زیاته پاملرنه وکړي. یوازې په دې ډول هغه ته یو کمونیست انسان ویل کیدای شي.

ټول وفادار، صادق، فعال او شرافتمند کمونیستان باید د لیبرالي ګرایشونو په وړاندې د مبارزې لپاره چې زموږ په منځ کې د ځینو کسانو لخوا ښودل کیږي، یو ځای شي او هڅه وکړي هغوی سمې لارې ته راولي. د ایډیولوژیکې مبارزې په جبهې کې دا زموږ له دندو څخه یوه ده.

پای

۱۹۳۷ د سپتمبر ۷

”سیند خپرندویه“ خپاره کړي دي:

۱.د کمونیزم اصول، فریدریش انګلس، ژباړه:فرهاد ویاړ

۲.دیالکتیک ماتریالیزم د ځوانانو لپاره، رضا قربانی، ژباړه: مرینه سحر

۳. د یوه شاعر اندیښنې، احمد شاملو، ژباړه: فرهاد ویاړ

۴.یو شعر چې کرکه ده، پاخون دی او انتقام ـ سپیڅلی

۵.مور مې ښکلې نشوه، رضا فرمند، ژباړه: فرهاد ویاړ

۶.مارکسیزم او رفورمیزم، و.ا.لنین، ژباړه: هاشم سهار

۷. لیوهولان ـ یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!، ژباړه: فرهاد ویاړ

۸. د شناخت په اړه یو څو خبرې، صمد بهرنګي، ژباړه: څرک

۹.ارنستو چه ګوارا، م.بنامین، ژباړه:فرهاد ویاړ

۱۰.اولدوز او کارغان، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي

۱۱.کوراوغلو او ګنجی حمزه، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي

۱۲. د دیالکتیک ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم په اړه، ی. و. ستالین، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۳– زما ګیتار! ویکتور خارا، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۴ ـ مخکښ شهید، لوچیاپن، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۵– ډیر ترویج، ډیر تبلیغ، ای . میشتر، ژباړه: ولي

۱۶ – د ویتنام حماسه، د امریکې رسوایي، م. بنیامین، ژباړه: سرمد

۱۷– ولادیمیر ایلیچ لنین، نادژدا کروپسکایا، ژباړه: ولي

۱۸ ـ آواز (جوئن بایز ـ تیکن جا فاکلی ـ باب مارلی)، فرهاد ویاړ

## خپریږي:

## د تضاد په اړه – مائوتسه دون، ژباړه: ولي

سیند خپرندویه

